ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ نیټه ۱۱-۰۱-۲۰۱۱

# ټلويزيونونه دافغان ماشومانو ژبني حقوق،
## کولتور او روغتيا ګواښوي

سريزه :

مينديږ او پلرونو له يوې خوا د خپلو ماشومانو د زده کړې د ډول په ټاکلو کې د لومړيتوب رښته اري، له بلې خوا ميندې او پلرونه، ښوونکي او روزنونکي بايد دا ومني چې يواځې دوی نه دي چې دماشومانو دزد ه کړو، ښوونې او روزنې برخليک ټاکې، بلکې د ماشومانو د ژوند نړی د ټولنې او مالوماتي ډليزو رسنيو له خوا هم ټاکل کيږي . دنن ورځ ماشوم په کورنۍ چاپريال کې د ټولو تخنيکي ډليزو رسنيو له ډولونو سره بلد دی. لکه ټلويزيون، ويديو، راديو، سي ډي، ډي وي ډي، ګرځنده ټيليفون، کمپيوټر، کمپيوټر ي لوبې او انټرنيټ .
د ډليزو رسنيو اغيزه په زوړ، ځوان، لوستي، نالوستي او د يو هيواد د کولتوري ژوند په ټولو برخو او ټولو وګړو باندې يوشان ده. پخوابه ډليزې رسنۍ يواځې د خپل هيواد له کولتور سره تړو درلود، دنن ورځ ډلیزو رسنۍو ټولنه پولې نه پېژني. د نن ورځې د خبرو اترو ډليزې رسنۍ په ډيره چټکه توګه د اندونو، فکرونو، انځورنو، تجربواود پوهنې په ليږدولو کې ستره برخه اخلي. ورسره د خبرواترو په ټولنه کې سترې ستونځې زيږوي او په ميليونه ماشومان يې له ډول ډول ټولنيزو او روغتيايي ستونزو سره مخامخ کړي دي.

ډليزې رسني په تنکيو ځوانانو باندې ويجاړوونکي اغيزې لري . ډيرې داسې تيورۍ شته چې د ډليزو رسنيو اغيزه په ماشومانو او تنکيو ځوانانو کې د اروا پوهنيزو پلټونو او برسيرونو څخه نوره وړاندې ځي .
د سپوږمکۍاوکيبلي شبکو له لارې ټلويزيونونه او د انټرنيټ نوې ټکنالوجۍ پر مختګ ، فلمونه ، بريښنايې بوختوونکي لوبې او خپرونې له يوې خوا ډيرو خلکو ته په زړه پورې او نوې ښکارې له بلې خوا ډير خلک يې بيا له ژورې انديښنو او کړکيچونو سره مخامخ کړي دي .
ماشومان کولای شي په ډيره اسانه توګه خپل کور کې د ټلويزيون اوانټرنيټ د يوې بټنې په ټينګولو سره په کرده نړۍ کې له تاوتريخوالې څخه ډک فلمونه او بوختوونکې په زړه پورې خپرونې وګورې.
د نن ورځ ډليزو رسنيوتخنيکي پرمختګونو ميندې او پلرونه يې له سترو نويو دندو او مسووليتونو سره مخامخ کړي دي .
ټلويزيون نن د کورنۍ ژونديوه مهمه برخه ګرځيدلې ،ټلويزيون د خبرواترو نمونې وړاندې کوي او د مالوماتو په تبادله کې ستره ونده لري . ژبه په ټلويزيون کې نه يواځې مهمه ده ،بلکې د ټلويزيون بنسټ جوړوي . ډليزې رسنيو د ماشومانو په ژبه باندې ستره اغيزه لري. زموږ د تنکيوځوانانو په ژبه کې زموږ د کولتور او دودونو ‌ۍو انځور پروت دی. له همدې امله د ټلويز يون ژبه بايد زموږ په افغاني ټولنه کې په ځير سره وڅيړل شي .
پوښتنه دا ده چې څنګه ډليز ې رسنۍ يا ميديا په ولسواکه ټولنه کې د ملګروملتو د ماشومانو د رښتو يا حقوقو کنوانسيون پر بنسټ د ماشومانو د خپلواکې وينا سره چلند کوي. په بله ويناڅنګه ډليزې رسنۍ د ماشومانو سره اود دوی له روغتيا ،مورنۍ ژبې او ژبني رښتو سره چلند کوي . ډليزې رسنۍ يا ميديا په هيڅ ډول اجازه نه لري چې له ماشومانو سره توپيريزه چلند وکړي او يا د دوی د مورنۍ ژبې حقوق، کولتوري ميراثي ارزښتونه له پامه وغورځوي.
دماشومانو دحقوقو کنوانسيون د ماشوم د وينا په بشپړې خپلواکې باندې ټينګارکوي او برسيره پردې د ډله ييزورسنيو څخه غواړي چې د ماشومانو لپاره تر ټولو ښې ټلويزيونې خپرونې ،فلمونه او ښوونيزه او روزنيزه ډارمې د ماشومانو په مورنۍ ژبه چمتو کړي .
کولتور يا کلچر د يو ولس د ژوندانه بيلا بيل اړخونه او د مادي او معنوي شتمنيو کچه جوتوي. ايراني کولتور او افغاني کولتور په ځينو برخو کې ورتوالې لري. خو په بنسټ کې دا دوه بيل لرغونې کولتورونه دي. کولتوري دوددنه د يو ولس د لرغونې تمدن ښې نښانې دي، کولتور د يوې ټولنې ټول مادي او معنوي شتمنې او ډوډيزه اړخونه رانغاړي.
دبشريت او د تمدونو تاريخ پرته له کولتوري راکړې ورکړې څخه نه دی ليکل شوې. د دوو تمدنو ترمنځه کولتوري راکړې ورکړې د يو بل کولتور بډايه کول دي . د ايران اخوندي رژيم د افغانانو افغانيت ،لرغونې تمدن


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

او کولتور ته هېڅ درنښت نه لري . د دوی موخه نه یواځې د افغانانو تاریخ او کولتور لمنځه وړل او له رېښو ټخه جړړې ایستل دي، بلکې خپل ایرانې کولتور په افغانستان کې خپرول اوپه موږ باندې تپل غواړي .

## ۱ . د ایران کولتوري یرغل که کولتوري راکړې ورکړې

کولتوري راکړه ورکړه د کولتور نو او تمدونو د ودې او پاښبت لامل ګرځیدلې دي . د دوو کولتورنو ترمنځ کولتوري راکړه ورکړه یو بل ته په کولتوري درنښت او په خوښه تر سره کیږي . د د وو کولتورنو ترمنځ راکړې ورکړې موخې د یو بل کولتور لوړول ،بډایه کول او بشپړول وي. د دوو کولتورنو ترمنځ راکړه ورکړه هغه مهال شونې وي چې د دوی تر منځه هېڅ ډول سیاسي او ټولنیزه نا انډولي شتون ونه لري. د کولتوري راکړې ورکړې موخه د یو بل لمنځه وړل نه وي، بلکې یو بل ته د کولتور ښې برخې خپرول او لېږدول وي.
د یو ولس کولتوري کچه هغه مهال جوتیږي کله چې د هغه ولس خلک په خپلو لرغونې دودونو او ملي ارزښتونو باندې ښه پوه وي او په اړه یې مالوما ت و لري .
کولتوري یرغل په بل کولتور باندې یو اړخیزه تپل کیږي او موخه یې د بل ملي کولټور کمزوري کول او لمنځه وړل وي. یرغلګر کولتور په ډیر سپین سترګتوب سره هڅه کوي د مقا بل کولتور ځاي ناستي شي .
د کولتوري یرغل موخه تل د بل کولتور لمنځه وړل او جړې ایستل وي .
کولتوري یرغل د پوځې یرغل په پرتله په خلکو کې ژرنه احساس کیږي او خلکو ته هم لکه پوځې یرغل ژر نه څرګندیږي، کولتوري یرغل د ډیر اوږد مهال لپاره پلانیږي. ریښې دیرې ژورې، اغیزې یې ډیرې پراخې او ګواښمنې وي، سربیره پردې کولتوري یرغل په ډیره ارامه او غلي ټوګه تر سره کیږي او قربابیان یې ماشومان او تنکې ځوانان وي . په کولتوري یرغل کې غلیم له هر ډول اقتصادي، سیاسي او استخبارتي فشارونو څخه کار اخلي . لکه ایران همداس د د افغانانو په وړاندې د ټوپاو له وسلې څخه کار اخلې. پوځې یرغل د دښمن له خوا په ښکاره ډول په یو هیواد کې پیل کیږي . دکولتوري یرغل ګواښمنه وسله بیا د کور په دننه کې زموږ فکر، ملي ژبه، ملي احساس ،ملي هویت او ملي کولتور په نښه کوي او ورو ورو یې لمنځه وړي.
دایران کولتوري یرغل دافغانستان په سیاست، اقتصاد او دمذهبې لړکیو څخه سربیره په پوهنیزو ځانګو کې لکه پوهنتونواوښوونځیو کې ایراني میتودونه او ایراني ادبیات پلې شوې دي ،په عامه کتابتونو کې په زرګونه ایراني کتابونه زموږ د ملي یوالې او کولتوري تخریب لپاره چمتو او رالیږل شوې دي، د افغانستان په بازارونو کې د ایراني توکو سربیره ایراني ډوله کالي او ایراني لهجي د ځیني خلک له خوا ستعمالیږي ، د عاشورا په ورځ شیعګان د کابل په سړوکونو کې ځانونه لکه په ایران کې وهي چې داکار د افغانستان په زر کلن اسلامي تاریخ کې چانه ولیدلې ، په ځینو سیمو کې د خمیني او خامنه یې انځورونه لګیدلي دي . سړی حیران شي چې دا ایران دی که افغانستان! په ایران کې د کولتوري راکړې ورکړې په لړي کې ایرانیان دافغاني کولتور، د هزاره ګانو او تاجکانو یو دود او کولتوري توکې نه مني ، د پښتو او دری ژبو ترمینالوجۍ ته هیڅ چانس او اهمیت نه ورکوي چې په ایران کې وکارول شي او ورسره د ایران قونسل په هرات کې امر کوي چې پښتوژبه مه لیکی . ایران په افغانستان کې یو ډیر ظالمانه،دښمنانه او خطرناکه کولتوري یرغل پیل کړي او موخه یې زموږ اسلامي ټولنه، ملي کولتور، ملي تاریخ او ملي یوالې لمنځه وړل دي او بس.

## ۲ . افغان ماشومان ایرانې ټلویزیونو تر خپل کولتورې یرغل لاندې راوستي

افغانستان د ایران، تاجکستان، هندوستان او تریوې کچې دلویدیځ د کولتوري یرغل تر برید لاندې راغلې دی. دیادو شویو هیوادو دسلو څخه ډیر ټلویزیوني چینلونه دسپوږمکۍ له لارې په افغانستان کې لیدل کیږي. له همدې لارې زموږ ملي کولتور او ملي اسلامي ارزښتونو، ملي ژبه تر کولتوري برید لاندې راغلي دي.
د ایران متعصبه رژیم د خپل مذهبې جنون، کولتوري لیونتوب، د پان پارسیزم او پان ایرانیزم هژمونیستي خوب او خیال ، دایران سیمه ییزه کولتوري نیواک، بې شرمه لاسوهنې افغانستان او سیمه یې نارامه کړي او له سترو کړکیچونو او چلنچونوسره مخامخ کړي ده .
د ایران بې شرمه سیمه ییزه کولتوري امپریالیستي لاسوهنې دافغانستان په مذهبې ،سیاسي، اقتصادي ، ټولنیزو او ژبنیو برخو کې هر افغان ته له زعمه وتلې دي . په افغانستان کې د ټولو افغانانو له خوا په یو غږ د ایران دلاسوهنونو په وړاندې باید شدید غبرګون وښودل شي .
په افغانستان کې باید ټولې ایراني پلوه ډلې،بې کولتوره ،بې نامه اونښانه اجیران،جاسوسان،ډلیزې رسنې او ایرانې پولوه مذهبي ډلې په کلکه سره وځپل شي.
افغان ټلویزیوني شبکې هم د ایراني او هندي بې مانا او ګمراه کونکې ډرامو اوسریالونو په خپرولو پیل کړي دی . په هر کور کې چې ټلویزیون شته دغه خپرونې په ډیره مینه سره لیدل کیږي . د دې لامل دا دی چې د افغانستان


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوړدو جګړو، اقتصادي ستونځو له امله د تختيکي ډليزو رسنيو او فلم جوړولو صنعت يوه ستره تشه درلوده . اوس دافغانستان ځيني خصوصي ټلويزيونه د ايراني ټلويزيونو او خپرونو څخه يو په يو کاپي کوي .

د دغو ټلويزيونو په ځينوخپرونو کې د افغان ولس نوميالیو ته دافغان ملي او لرغونې کلتور ته ، ملي ارزښتونو ته او د هيواد ملي هيلو ته سپکې سپورې پيل کړي دي .

دايران اخوندي رژيم پاليسي د پان ايرانيزم تر سيورى لاندې په افغانستان او تاجکستان کې رسمآ خپل کولتوري يرغل پيل کړي .

ايران رسمآ افغانستان يې د دريو پارسي ژبو هيواد و په کتار کې نيولي دی . دوی هڅه کوي له همدې لارې څخه افغنستان يو پارسي ژبې هيواد په څير افغانانو او نړۍوالو ته ورو‌پېژني؟

نن زموږ پښتني او افغاني ملي کلتور تر بل هر وخت زيات د بهرنيو کلتوري يرغلونو سره مخامخ دي، ځيني په کور دننه داسې کړي شته چې د بهرنيانو او په ځانګړي ډول له ګاونډيانو سره پډې يرغل کې څنګ په څنګ ولاړ ې دي او هڅه کوي چې زموږ ملي ترمينالوجۍ په پرديو اصطلاحاتو بدله کړي . د ملي ترمينالوجۍ د له منځه وړلو سره دوی غواړي زموږ پر فکر،وګړرښتو يا بشري حقوقو،اندونو،ملي کلتوري ارزښتونه باندي هم يرغل وکړي . دا کومه تصادفي خبره نه ده چې ځيني افغان ټلويزيوني وياندان په ايران کې په اېراني لهجه په ايراني ترمينالوجۍ روزل شوې دي ، دوی بيا په ډيره اسانه په افغاني ټلويزيونوکې په کارګمارل کيږي .دغه وياندان د افغانستان ملي تر مينالوجۍ ته قصدآ پام نه کوي. خلکو ته داسي ښيې چې دوی خو په ايران کې ژوند کړي . ځکه د دوی لهجه ايرانې او بل ډول ده.

ولي په افغانستان کې ځوان ټکړه د دری د لرغوني ژبې افغان وياندان نشته ؟

د افغانستان د اطلاعاتو او کولتور وزارت نه يواځې زموږ ملي ميراثي کولتور،ملي ازربښتونه او ملي وياړنې ته پام نه کوي اونه يې خوندي کوي، بلکې دا يران دغو فاشيستي يرغليزه پاليسي ته لاره خلاصه کړي ده . ايرانې متعصبه رژيم په همدې منظور د افغانستان د اطلاعاتو اوکولتور په وزارت کې خپلو اجيرانو او تالي‌څټو ته ډېل معاشونه ورکوي . دوی د دری په لرعونې اواصيله ژبه کې د ايراني فارسي لغتونه او لهجې ورګډول دي .

يو شمير پارسي ژبې دا ساسي قانون خلاف د ايران په لمسون دافغانستان د ملي ټرمينالوجۍ له پلي کولو څخه سرغړونه کوي او ورسره ايراني ترمينالوجۍ ته لاره خلاصوي .

زموږ نيکمرغي په دې بدمرغي کې اوس دا ده چې ريښتيني کولتوري افغانان د دا ډول ناوړه سلوک او د دغې ويروس پر وړاندي ډير ښه واکسين شوې دي . د ايران کلتوري يرغل له ډيره مودې څخه پيل شوې دی .

افغانان به خامخا د دغې بې کولتوره او سپين سترګې کولتوري يرغل په وړاندې ګډ دريځ خپلوي . ملي ترمينالوجۍ اصطلاحاتو چې د افغان ولس د ملي هويت يوه برخه جوړ وي، افغانان به هيڅ کله پرينږدي چې دايران جاسوسان ، اجيران او تالي څټې زموږ په ملي ارز ښتونو ملنډې ووهي .

موږ دافغانستان په دننه کې د ساري په ډول دطلوع ټلويزيون ،اريانا ټلويزيون ،او په بهر کې د اريانا افغانستان ، پيام افغان او د افغانستان غږ او داسې نورې ټلويزيوني خپرونو ،سندرې،سوداګريزه خبرتياوې يا اعلاناتو،پوهنيزه شننو اوخبرې اترو کې په ډير ه چټکه توګه د ايراني کيدنې نښې نښانې ګورو .

زموږ ډليزې رسنۍ د ايرانې کيدنې په لور په افغانانو کې ډيرې انديښنې رامنځ ته کړي دي . له يوې خوا دا ټلويزيونونه په لومړۍ سر کې د لرغونې دری ژبه ښکلا لمنځه وري ، له بلې خوا په افغانستان کې دری ژبه د نورو قومونو او ژبو ويونکوپه منځ کې دايراني ټاپې په غوړلو سره سپکه او بې ارزښته کوي .

دا ټلويزيونونه زموږ مورنې ژبه پښتو،ملي ژبه پښتو او د دهيواد لومړنۍ رسمي ژبه پښتو ته له انساني او حقوقي پلوه د مجبويته له پلوه لږ پام کوي او په پوهه او نا پوهه توګه زموږ پښتو ژبه حاشيه ته کوي . دا ټلويزيونونه زموږ دمعصومو، پاکو، ويرجنو،بې حقوقو او خوړو ماشومانو ژبنيو ربنتو ته درنښت نه کوي . زموږ ماشومان څلورويشت ساعته د ټلويزيون په کړکې کې د پرديو يرغلګروکولتوري خپرونې ګوري. ايا د افغانستان د ټلويزيونو مسوولين له ځانه دا پوښتنه کولي شي چې افغانان کولې شي د ايران په دننه کې يواځې نيم ساعت په پښتو اويا درې ژبو خپرونې پيل کړي اويا سوداګريزه خبرتياوې په دری ژبه خپرې کړي ؟

ولې دا نوره ګاونډې هيوادونه د دوی په ټلويزيونو کې ساعتونه په کرايه نه اخلې چې يواځې ايرانيان اخلي ؟

د افغانانو ټلويزيونونه په مستقيم ډول د ايران تر کولتوري ير غل لاندې خپرونې کوي. ځکه دا ټلويزيونونه يواځې يوې ژبې ته کار کوي او په افغانستان کې د افغانانو ملي ژبې منل شوی‌حقوقو ته درنښت نه کوي. تلويزيون او راډيو دکورنيو په منځ کې تل خپل ځانګړی ځای او اهميت لري بايد له پامه ونه غورځوي شي .

دلته مطلب په ټلويزيون کې د بهرنيو هيوادو د فلمونو او سريالونو د خپرولو سره اصلأ مخالفت نه دی . دبيلګې په ډول په افغانستان کې ډير ټلويزيونه هره ورځ څوڅو ساعته په يوه بهرني لهجه اويوې بهرني ژبه خپرونې کوي او په بدل کې افغاني فلمونه او پروګرامونو ته هېڅ پام نه کيږي .د هيواد ماشومانو د ملي او رسمي ژبې حالت به په راتلوونکې کې په څه ډول شي ؟

---



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

آیا دا شوني ده چې دری او پښتو ژبې په همدي شدت سره په ایرانې ټلویزیونو کې خپروني وکړي ؟ .
ایرانیان به د دری او پښتو ژبې یوي کلمي ته د ایران په رادیو، ټلویزیونو او ښوونیزه سیستم کې اجازه ورنه کړي .

سره له دې چې افغانستان دخپل جیو ستراتجیک موقعیت له امله د تمدنو په ځلور لارې کې واقع دی، افغانستان خپل ځانګړي ملي ارغوني کولتور او ملي هوىت اري. دافغانیت ستر لرغوني کولتور د زغم کولتور مخکښه او بډایه کولتور دی . په افغانستان کې ورونه توکمونه افغان هندو، افغان سیک ، افغان ازبک، افغان ترکمن ، افغان هزاره،افغان تاجک، افغان بلوڅ ګډ سولیز ژوند لري ،دغوولسونو زموږ ستر ملي کولتور دافغانیت تمدن ته په خوښه د کولتوري راکړي ورکړي پرنسیب له لارې نوره ښکلا او رنګونه ورکړي دي .

دایران متعصبه رژیم داسي یو لرغونې بډایه اسلامي کولتور په خپل ګاونډ کې زغملي نه شي او په دیر سپین سترګتوب سره خپل مذهبې او کولتوري یرغل د یو شمیر نا افغانه اجیرانو اوجاسوسانو له لارې تر سره کوي .

## ۳. ماشومان او دټلویزیون انځوریزه ځانګړي ژبه

ټلویزیون د ټولنیزو اړیکو غږیزه او انځوریزه وسیله ده . ټلویزیون د افغان ولس د ملي یووالې ارزښتونه او زموږ د هیواد ملي ټرمینالوجی په ډیره ښه توګه ولس ته وړاندې کولي شي .

په خواشیني سره زموږ د هیواد خصوصي او ملي ټلویزیونونه په هیڅ ډول دملي یووالې معیارونو او دهیواد د دوو ژبوحقوق پښتو او دری ته او دافغانانو ترمنځ دیوسولیز ګډ ژوند شرایطو را وستل په پام کې نه ساتي .

ماشومان د هىواد وګړي دي. ماشومان په ا ساسي قانون کې له ټولو لیکل شویو بنسټیزه رښتو څخه برخمن دي .

افغان ماشومانو ته باید په میدیا کې په ځانګړي ډول ټلویزیونوکې د دوی په مورنې معیاري کره ژبه، مناسبه، غوره، دلیدلو وړ په زړو پوري ښوونیزه، روزنیزه خپروني وړاندې شي . په ټلویزیون کې د ماشومانو رښتې ، غوښتنې،لیوالتیاووي جدې وګڼل شي . ماشومان دې شونتیاوو ته ډیره اړ تیا لري چې ځان د نړۍ له پیښو اوخبر ونو څخه د یو کوشني انسان په کچه خبر کړي . تر څو چې دوی ځان ته یو خپلواک اند له نړې څخه جوړ کړي .

دوی باید وپوهیږي چې مالومات د ولسواکو پریکړو بنسټ جوړوي.

پښتانه ماشومان د نړۍ د نور ژبو ماشومانو ته په کتو سره د نن ورځې له ټلویزیوني خپرونو څخه بې برخې دي . دوی ته په خپله مورنې ژبه مناسبه ټلویزیوني خپرونې چې د مسلکي پرودیسرانو او ډایرکټرانو له خوا چمتو شوې وي نشته . په پښتوژبه ډارمې،تمثیلي ټوټې او ننداري چې ماشومان ترېنه څه زده کړي ډیره اړتیا لري . پښتانه ماشومان مسلکې روزل شویو ویاندان او خبریالانو ته اړتیا لري . تر څوچې د دغې روزل شویو خبریالانوله خوا د ماشومانو لوړي ګټې ،خوښتنې او بشري حقوق یا وګړ رښتې په ښه توګه په لومړیتوب کې راوستل شي .

په ټلویزیون کې له ژبې څخه کارواخیستل کیږي، د ټلویزیون ژبه د ماشوم ژبې ته وده نه شي ورکولې .بلکې د ماشوم د ژبې ودې مخه نىسي. له یوې خوا د ټلویزیون رنګه غږیزه انځور یزه ننداره دماشومان حیرانتیا را پاروي له بلې خوا همدا رنګه ښوریدونکي انځورونه، د ټنګ ټکورغږ د ماشومانوخپلواکې او د پلټنو اړتیاوي زموږ په مدرنه ټولنه کې اوبه کوي . ځیني خلک د ټلویزیون څخه دانساني اړتیاوو د بدیل په ډول کار اخلي ،لکه یواځیتوب او بیروزګارو خلکو ته د بوختیا یوه ښه وسیله پیژندل شوي ده .

ټلویزیون له ځانه سره ډیر کړکیچونه او ستونزي زموږ کور ته راوړي . موږ باید لومړۍ د ټلویزیون کارول زده کړو . په تیر بیا ماشوما ن باید د ټلویزیون د لیدلو وخت او استعمال زده کړي . ماشومان له ټلویزیون څخه د لویانو په پرتله بل ډول اخیسته کوي .

د وړکټون ماشوم د فیلم فریکونیس او کیسه د ښه او بد،د ځواکمن او ډارن رول په اسانه ښه سره ویشي .

د لومړنیو ټولکیو زده کونکې بیا د رښتینې او خیالي کیسو توپیر کولي شي .

یو لس یا دولس کلن ماشومانو بیا ټلویزیون د لویانو په څیر ګوري . دوی د خپل منطقي فکري ودې سره کولي شي د فیلم په اړیکو باندې ښه وپوهیږي .

پوښتنه دا ده چې نن څومره زموږ د رسنیو ټولنه د افغان ماشومانو ژبنیو رښتوته درنښت لري .

ماشوم نن په ډلىزو رسنىو کې رالوىږي. میدیا نن د ژوند په ټولو برخو کې را ننواتي ده . په افغانې میدیا کې د ماشومانو لپاره دخپرونو او خبرونو څرک نه لګیږي .

ځیني رسنۍ د ماشومانو په اړه خبري کوي ، اما له ماشومانو سره د ماشوم د ژبې په کچه خبري نه کوي . ماشومان نه یواځې د نن بلکې د سبا ورځې اوریدونکې،لیدونکې او ویونکې دي . دا به دیره ښه وي چې دوی خپلو رسنیو ته د تل لپاره را وګټو.

ډیر تلویزیون لیدل د ماشومانو ودې ته ضرر رسوي . ټلویزیون د بوختیا یو ناسم ډول دی . دې پایلې ته د واشنګتن یو پوهنتون رسیدلي دی، داسروي یوي مسلکي مجلي په نامه د اکټ پیدیاتیرس خپره کړي ده .
Dimitri Christakis vom Seattle Children Research Institute der University of Washington


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ټلويزيون د ليدلو سم چلند کلی د مور او پلار سره ده . په دغه سروي کی هره پنځمه مور وايي چي موږ ټلويزيون هغه مهال بلوو کله چي سړی ځانته دلږ څه وخت اړتيا احساس کړي.
په همدې سروي کې ويل کيږي چي هيڅ داسي سروي نشته چي دا يي ثابته کړي وي چي ټلويزيون په ماشومانو باندي مثبته اغيزه لري .
ډير ټلويزيون کتل په پردي ناسمه ژبه د ماشومانو د ژبي وده په ټپه دروي . ټلويزيون دوړکتون ماشومانو او تنکيو ځوانانو ژبه باندې خواږخيزه اغيزه لري. دبيلګي په ډول دوی کيسي بيا سمي نشي تکرارولي، ماشومان د لغاتو لږ زيرمه لري او يا ناسمه ګرامري پوهه لري .
په بله وينا ډير ټلويزيون ليدل په نا مورنۍ ژبه په يو اوږدمهال پړو کې دژبي ودې ته ستر ضرورونه رسوي .
ستونزه هله رامنځته کيږي کله چي ماشوم ډير او يواځي ټلويزيون ګوري او دخپروني په اړه خبري اترې نه کوي .
کله چي ماشوم ډير وخت د نورو فعاليتونو په پرتله لکه د ښوونځي د کورنی چارې،لوبې او ملګرو سره دليدلو او لوبو کولو په ځای د ټلويزيون په ليدلو تيروي .

۴. يوماشوم بايد په يوه ورځ کي څومره ټلويزيون وګوري .
ميندو او پلرونو ته مهمه ده وپوهيږي چي ماشومان يي د عمر په پړاونو کې څومره د ټلويزيون تر ناوړه اغيزو لاندي دي ، دوی بايد وپوهيږي چي څومره ويره د ټلويزيون له ليدلو څخه ولري او بايد وپوهيږي چي د دوی ماشومان په ټلويزيون کي څه شی ګوري .
د المان فدرالي جمهوريت د روغتيايي پوهاوني د عامو چارو اداره خلکو ته د ماشومانو ټلويزيون ليدلو په اړه د مهالوېش داسي وړانديز او مشوره ور کوي .
» د صفر څخه تر دوو کالنی پوري د ورځي ۲۰ دقيقي
» د دريو څخه تر پنځه کالنی پوري د ورځي ۳۰ دقيقي
» د شپږو څخه تر نهو کالنی پوري د ورځي ۶۰ دقيقي
» د لسو څخه تر ديارلسو کالنی پوري د ورځي ۹۰ دقيقي
ماشومان تر دري کالني پوري په هيڅ ډول نه شي کولي چي ښوريدونکي انځورونه په مکمل ډول واخلي .
د لس کالنی څخه پورته ماشومان کړي شي په تلويزيون کي ريښتيني او نا ريښتيني پيښې سره توپير کړي .

له ټلويزيون څخه ماشومان خونداخلي ،په لومړي پيل کي کوم ضرر نه رسوي . د ماشومانو څخه هر څه منع کول له موږ سره مرسته هم نه کوي . ان په اکاډميکو زده کړو سمبال ميندي او پلرونه نشي کولي پرته له ټلويزيون څخه خپلو ماشومانو ته د نړۍ نوي شيان وروښيي . ټلويزيون دماشومانو د پوهي او ارزښتونو باندې ستره اغيزه لري .
کله چي ماشومان ډير ټلويزيون ته کيني ، دوی ته د ويلو او لوبو ډير لږ وخت پاتي کيږي .
ماشومان بايد هيڅ مهال ټلويزيون ليدو ته يواځي پرينښودل شي .
ماشومان بايد په درې ميټر و اټن کي ټلويزيون وګوري .
د ماشومانو پوښتني د پروګرام او پيښو په اړه د ټلويزيون کرکي مخي ته بايد سمدستي ځواب وويل شي .
دخپروني د محتوياتو په اړه بايد خبري وشي . د هر برخي په اړه نيوکي او ستاينه وشي .
ماشومانو ته وخت ورکړي چي د خپروني په اړه له تاسو سره خبري وکړي او تاسو پوهيږي چي ماشوم مو څومره او څنګه له خپروني اخيستنه کړي ده .
د ټلويزيون د کتلو پر مهال ماشومان هيڅ ډول عملي فکري فعاليت لکه منډې وهل، لیکل ، لوستل او داسي نور فعاليتونه نه تر سره کوي .
د ماشومان د ويدا کيدو څخه اټکل يو ساعت مخکي بايد ټلويزيون مړ کړل شي . تر څو د ماشوم فکر او ذهن خوب ته چمتوشي .
ماشومان نن د ډليزونړيوالو رسنيو تر ناوړه سيوري او فشار لاندې دي . موږ ډير لږ شونتياووي لرو چي ماشومان له دغو ناوړواغيزو څخه وژغورو . مور او پلار ته په چارده چي خپل ماشومان له دغي ځواکمن ځواک له ناوړو اغيزو څخه خپله وساتي . ميندو او پلرونو ته په چار ده چي کورنی او ټولني ته روحآ اوجسمآ روغ رمټ ماشوم وړاندې کړي .
۵. د ماشومانو لپاره کارتونيک فلمونه
ماشومان کار تونيک فلمونه زښت ډير خوښوي . ماشومان د لومړنيو زده کړو تر پايه د کارتونيک له فلمو څخه خوند اخلي . ښه کارتونيک فلمونه د ماشومانو لپاره بوختوونکي دي،د دوی فنتزي پراخوي، دماشومانو نوښتونه پکي روزل کيږي .د ماشومانو لپاره ټلويزيون ليدل اوياکمپيوټري لوبې کول ډير په زړه پورې دي .
ژبه په تخنيکي رسنيو کي د مالوماتو د ښتولو،خپرولو او تيارولو کي خورا مهمه ونده لري . په ټولنيزو راکړ ورکړو کي بنسټيز رول لوبوي . يوه ښه پرمختللي ژبه د زده کړي په بهير کي کليدي رول لري . د لته په يوې ځګه


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیرلو مخکي په خير و لولئ

معیاري پښتو ژبې باندې لاسبري لرل یو مرکزي مانا لري . په پښتو ژبه باندې لږ لاسبري او د ژبنې پوهنې کمښت د دې لامل ګرځي چې د ماشوم دعقل هوښیاري په پرتله ژبنې وده یې پخه یا تکنې کیږي . له همدې امله د ماشوم ژبې ته بایدپه کوردننه ،وړکتون او تلویزیوني کارتونیک فلمونوکې پاملرنه شي . کارتونیک فلمونو د فلم جوړولو کمپنیو له خوا په ډیر زیار او لګښت سره لیدلو ته چمتو کیږي .

په افغاني ټلویزیونونه کې کارتونیک فلمونه یواځې د یو ژباړن یا ویوونکې له خوا په یوه ډیره ناسمه، ګونګه او یوه سیمه ییزه پښتو ژبې ګړ دود یالهجې باندې ژباړل کیږي . ماشوم هیڅ د کارتونیک فلم په کیسه نه پوهیږي او ستړي کیږي . همدا یو لومړنی لامل دی چې ماشوم په پردي ژبه باندې کارتونیک فلمونه ګوري .

هیله ده چې دافغاني ټلویزیونو مسوولین د ماشومانو کارتونیک فلمونو ژبې ته یوه معیاري ،کره ،خوږه ، پسته ژبه خوښه کړي . تر څو د درست پښتون ماشومانوته له همدې لارې هم یوه کره معیاري ،پیاوړې ،جګه پښتو ژبه په خپرونو او فلمونو کې وښودل شي . دا به د افغان ماشومانو لپاره دا فغاني کولتوري ودې او راوپښولو یوه لار وي او افغان ماشومان به د ایراني کولتورئ یرغل څخه وساتل شي .ژبه د کولتور او تاریخ تولید او زیږنده ده، چې د یوې ټولنې د ودې هنداره په کې لیدل کیږي .

ایرانیان او ایراني پلوه ډلې افغاني ټلویزیونو ته په ایراني لهجه کاتونیک فلمونه ډالې کوي ،ترڅو په افغان ماشومانو کې ایراني لهجه او ایراني ترمینالوجي وکړي . د داسې فلمونه خپرول ددغو خلکو د ژبنې کولتور بې وزلې ښیې .

## ۶. ټلویزیون او د ماشوم روغتیا

افغان ماشومان له ډیرو کالو راهیسه له ډول ډول تولیزو تاوتریخوالي او اقتصادي کړکیچونو سره مخامخ دي . زموږ ماشومان د ټولنیز تاوتریخوالي له امله د یو تیاره راتلونکې په لور روان دي . زموږ د ماشومانو لپاره روزنیزه مالوماتي او د بوختیا خپروني کمیت او کیفیت په ډیره خواشینوونکې کچه ټیټ دي . لویان او کوچنیان په ګډه سره د لویانو فلمونه او خپروني ګوري . په فلمونو کې ډیر ې د اسې انځوریزه ګواښمنې صحنې ښودل کیږي چې د ماشومانو په روزنه، اروایي روغتیا او خوب باندې ډیره ناوړه اغیزې کوي . ماشومان بیا همدا د تاوتریخوالي صحنې کاپې کوي ، دخپل په ورځنې ژوند کې ورڅخه کاراخلي او ورسره عادي کیږي .

معتادیت یا روږدیوالي ناروغي ډیر اړخونه لري . دلیږي رسنې هم روږدیوالي لري . د روږدي انسان وجود ناروغه وي . اوس تخنیکې دلیږي رسنۍ د روږدیوالي ناروغیو په لومړۍ قطار کې راځي . کمپیوټر او کمپیوټري لوبې، انټرنیټ ،ګرځنده ټیلیفون او ټلویزیون روږدي لري دي . له همدي روږدیوالي څخه ځان خلاصول داسې دي لکه سږی د سیګرټو، نصوارو او الکوهل روږدیوالي څخه ځان خلاصوي .

## ۷ . پایله

ماشومان لکه د ټولنې نور وګړي له بنسټیزو ربنتونو خاوندان دي . ماشومان زښت ډیر کولتوري ودې او ټولنیز هویتي ملي ارزښتونو ته اړ تیا لري .

دماشومانو کولتور ،ټولنیز دودونه او ملي هویت نه یواځې دتاوتریخوالي څخه ډک فلمونه او بې مانا ډارمې ګواښي ،بلکې په ټولنه کې واکمنه کولتوري بې وزلې یې ګواښي . له همدې سره ماشومان د پردي کولتور لوري ته لیوالتیا ښیې او له خپل کولتوري میراث سره په واټن کې پاتې کیږي . لکه چې ټولنه او حکومت خپل ولسې کولتوري مثل شویو ارزښتونو ته په وینبه توګه پام ونه کړي او یا د لویانو له خوا ماشومانو ته د سم او مناسب کولتوري چاپریال زمینه برابر نشي ، بیا ماشومانو ته د دښمن کولتوري یرغل لاره خلاصه کیږي .

که حکومت او ټولنه د ماشومانو له کولتوري حقوقو څخه ملاتړ و کړي او ماشومانو ته خپل کولتوري هویت او ملي ارزښتونه ورزده کړي .په ماشومانو به هیچکله دغلیم ټلویزیوني فلمونه ناوړه اغیزه ونه کړي . ماشومان به د دښمن په پروپاګند اودناسمو اغیزو باندې ښه پوهه شي اود پردیوله کولتوري یرغل سره به مخامخ نه شي .

په پښتو کې متل دی . که غل نه غرې مل دې وغرې .

موږ افغانان مجبور یود ایران کولتوري یرغل په وړاندې دحل یوه لار ومومو ،تر څو چې د خپل لرغوني پښتني کولتور کمزورولو او د تخریب مخه ونیسو . دتولو څخه دمخه په افغانستان کې ایراني پلوه ډله ییزې رسنۍ او د ایراني رژیم خپروني په ډیر د قت او غور سره وڅارل او وپلټل شي چې په څه ډول د دوی د خپرونو په وړاندې غبرګون وښودل شي . په ننني نړیوال کلي کې د نړۍ هیڅ کولتور نشي کولای چې په خپل ځان یو فولادي دیوال را تاوو کړي او له هیڅ کوم کولتور او تمدن سره اړیکي ونه ساتي . د نړۍ هر کولتور کولتوري راکړې ورکړې ته اړتیا لري . موږ باید د کولتوري یرغل او راکړې ورکړې توپیر وپیژنو .

کله چې په یوه ټولنه کې کولتوري بې وزلي واکمنه شي اوولس خپل ځواک له لاسه ورکړي خلک له خپل کولتور او هویتي ملي ارزښتونو سره په واټن کې شي . هغه ولس ورکیږي او د بې کولتور په سمندر کې بیا ډوبیږي .

په افغانستان کې داسې ښکاري چې ایراني رژیم د خپلو پټو او ښکاره د بې کولتوره اجیرانو او جاسوسانو په لاس زموږ دهېوادملي یووالي،ملي ژبه،ملي کولتور،ملي ازښتونه اوملي ګټوپه وړاندې په خپل ټول اقتصادي ځواک سره د غې کولتوري یرغل ته رادانګړي دي او ایراني رژیم د خمیني او شیعه ایزم لپاره خپله ورستی مبارزه وکوي .



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

اوس ځنې افغاني ټلويزيونه د ايران متعصبه پردي کولتور په چوپړ کې فعال شوي دي . تر څو زموږ راتلونکي نسل ماشومانو ته د پردېپالنې زده کړې ورکړي .
دا ټلويزيونه بيا له ماشومانو څخه په ډيره اسانۍ سره په ټولنې کې اسلامي، اخلاقي او د هغوي معنوي او کولتوري ارزښتونه ، ژبنې حقوق او ذهني فعاليتونه اخلي .
هيله د چې ميندې او پلرونه بايد د ماشومانو د ټلويزيون ليدولو په اړه خپل مسووليت و پيژنې، او د خپلو ماشومانو راتلوونکی شخصیت ته ارزښت ورکړي. دوی بايد هغه ټلويزيونونه او خپرونې له ماشومانو سره يو ځای بايکاټ کړي چې زموږ ملي يووالې ، ملي وياړونو ته ګواښمن پريوځې او بې مانا، ګمراه کوونکي ، په ټولنه کې دتاوتريخوالی يوه نورماله بڼه ورښيي .
مور او پلار بايد د ټلويزيونو کړکيچونه او ستونزي ريښې ښې و پيژنې ، ترڅو چې د حل لپاره يې سمې لارې چارې ولتوي . د ټلويزيونو د برخليک او غبرګون په اړه بايد په افغاني ټولنه کې د ملي او هيواد پالو کړيو له خوا يو ګډ دريځ خپل کړل شي .
هيله ده چې زموږ ملي ټلويزيونه د افغانستان د خورا حساس او پيچلې کولتوري جوړښت ته په نړيوالو منل شويو اصولو او معيارنو کې پام وکړي . خپل بې مسوولتي ته د پای ټکي کيږدي .نه دا چې دوی يواځې خپل سوداګريزه موخو او پيسې راسته راوړلو ته پام وکړي .

پای


افغان جرمن آنلاين په دربښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ